# د یادونو مقبرو کښې

## ۳

سعد الله جان برق



د الف دین د داسې برکتي سپوري نه ماته دا فائده ورسېدله چې سکول مې پرېښود او فوځ کښې برتي شوم الف دین هم راسره ؤ خو چل ئې راسره دا وکړو چې خپل ځان ئې د نظر په ټسټ کښې فېل کړو خو ما هم په فوځ کښې د شواروز نه زیات وخت تېر نۀ کړو.

زۀ چې د نوښار سنټر ته ورسېدم نو څۀ نور رنګوټان هم وو د سند، پنجاب وغېره یو شل پنځویشت کسان به وو نو ماسخوتن زمونږ د بارک انچارج حوالدار راغلو وئیل ئې ټول کښېنۍ څۀ خبرې درته کوم، کښېناستو، حوالدار صېب ووې فوځ ته تاسو ټول پخېر راغلئ، خو زۀ یو څو خبرې درته کوم هغه به پیڅکي پورې پخې وتړئ د نن نه پس تاسو د فوځ ملکیت یئ، ژوندي خو د فوځ یئ خو ستاسو لاشونه هم کۀ فوځ وغواړي خو ستاسو وارثانو ته ورکولے شي خو هغوي ئې هېڅ حق نۀ لري چې تپوس ئې وکړي.

او د فوځ د ټول کېرئیر د پاره دا خبره یاده لرئ چې د نن نه پس به دا خپل دماغ چرته یو طرف ته سمبال کېږدئ، ستاسو کار صرف حکم اورېدل او په هغې عمل کول دي، د حکم د ښۀ یا بد سره ستاسو هېڅ کار نشته. دا کار د افسرانو دے ستاسو کار صرف "لسن اینډ ایکشن" دے.

د دې خبرو نه پس چې په کټ کښې پرېوتم نو ما وې اوس ئې خوند وکړو، په کومو مازغو چې تا ناز کولو، دوي وائي چې هغه به یو طرف ته کېږدئ.

دغلته زۀ په دې هم پوهـ شوم چې دا سابقه فوځیان غریبانان هیڅ ګرم نۀ دي چې د یو څیز نه شل

پنځويشت کاله کار وانۀ خستے شي نو کۀ هغه خالص د فولادو وي نو هم زنګ من شي او

په زنګ دماغ به څۀ کوي اشنا

نو سحر وختي چې مو چائے وڅښلې نو د بسونو اډې طرف ته مې مخه وکړه چې هغه ترې راغلے يم نو بيا مې په شا نۀ دي کتلي.

سکول خو پاتې شو اوس نوکري کول وو خو وائي چې:

عاشقه صبر وظيفه کړه

په بې صبرۍ معشوقې چا موندلې دينه

خو دومره صبر کۀ ما کولے هم نو حالاتو چرته پرېښودم. مشرانو دا هم وئيلي دي چې: ؟؟؟؟

هر څۀ په نصيب دي خو چيلم ته به مخه نيسې خو په مخه نيولو هم ونۀ شوه نو بيا هر قسم مزدورۍ ته ورلاندې وتم. داسې کار به ډېر کم وي چې ما نۀ وي کړے، د پټو مزدوري، په مزدورۍ لوونه کول، ګلکارانو سره کار کول، ختې لوټې، دېوالونه، د نهرونو صفايانې، د اعرابونو صفاياني مطلب دا چې د بېلچې، کودالۍ، لور، رمبې هره مزدوري مې وکړه. په سړکونو مې د تارکولو کارونه هم وکړل. د سر پښو لاسونو هر قسم سخت کار مې وکړو. عن تر دې چې بنو ته هم ورپسې ورسېدم خو دا قيصه به وروستو کوم ځکه چې د بنو نه زما دويم پېدائش يعنې د ادب او صحافت دنيا ته راتلل شروع کېږي، صرف دومره به ووايم چې زما يو ترۀ ؤ، هغۀ به د بنو مصالحه په ډبو کښې بندوله، يوه وړه غونډې کارخانه ګوټې وه چې مونږ به پکښې کار کولو، بيا چې کله زما د ترۀ هغه نوم او ټرېډ مارک د پېښور يو نکريزو واله قبضه کړو نو کارخانه او کمپنې ختمه شوه او بې روزګاري بيا شروع شوه. اصل کښې زما ترۀ هم زما په شان هوښيار ؤ، کمپنې کارخانه ټرېډ مارک هر څۀ ئې جوړ کړي وو خو رجسټرډ کړي ئې نۀ وو او پېښور واله هم هغه ټرېډ مارک د پټولو نه وړاندې رجسټرډ کړے ؤ، ترۀ مې عدالت ته لاړو خو تيار او مشهور کړے څيز ئې بائلو. د دغې نه پس بيا زما د آوارګۍ دور شروع شو کله دلته کله هلته کله دا مزدوري کله هغه مزدوري، خو يو کار وشو چې د ليک او ادب په دنيا کښې مې نوم ورو ورو په ځلېدو ؤ، د افسانو يو کتاب ((د کشمير غازي)) مې هم د بنو په دور کښې چاپ کړے ؤ او په رسالو، اخبارونو کښې مې هم نوم راتلو، خو تر دغه وخته د خېټې دپاره هم هغه د لاسو پښو مزدوري وه. ګويا لکه د حسرت موهاني حالت مې ؤ.

هے مشق سخن جاری چکی کی مشقت بهی
اک طُرفه تماشا هے حسرت کی طبیعت بهی

په کومه ورځ چې ما ته د قلندر صېب رقعه ملاؤ شوه چې ايوب صابر راغلے ؤ او هغۀ وئيل چې دے دې د بانګ حرم په دفتر کښې د مصطفٰے کمال سره ووينې نو په هغه ورځ ما تر ماښامه پورې د اباسين فلور مل په مزدورۍ کښې ټاټکے چلولے ؤ، د پېښور د رېل سټېشن ته مخامخ د اباسين فلورمل دغه ورځو کښې جوړېدو.

سحر زۀ او قلندر صېب د بانګ حرم دفتر ته لاړو، د مصطفٰے کمال د ماسټر خان ګل صېب زوئے

راسره ملاؤ شو او هغۀ وئيل چې مونږ ته د اردو د يو کالم نګار ضرورت دے، تر دغه وخته ما په اردو کښې څۀ مات ګوډ ليکل کړي وو خو مټ مې پرې پوره ناست نۀ ؤ خو ورتوکل مې کړو پرې. اول سر کښې راته ډېر تکليف ؤ او د مذکر مؤنث به مې يو بل نۀ تپوس کولو خو قصه روانه شوه زما د کالم نوم ؤ "مسائل آپ کے بيان همارا" بس د دغې نه ګاډے روان شو او لا تر اوسه لګېږي شروع ما د شپږو شلو يعنې ۱۲۰ روپۍ مياشت نه کړې وه او نن چې ما له اخبار کومه تنخوا د مياشتې راکوي هغه داسې وګڼئ چې د دې په نيمه زرګونه دي، خو د هغۀ نه تر دې پورې چې ما کوم سفر کړے دے هغه هم څۀ ډېر ګران سفر ؤ، د لاسونو پښو نه علاوه مې په زړۀ هم پولۍ راختلې وې.

د بېلتانۀ ظالم د لاسه

د زړۀ د پاسه مې پولۍ ولاړې دينه

د ټولو نه اول خو زۀ پکار ده چې د دې خبرې وضاحت وکړم چې آخر د لور، رمبي نه تر قلمه پورې زۀ ولې او څۀ شيز راوستم، حالانکې ډېره موده مې باقاعده زمينداري هم کړې ده، باقاعده قلبه ګاډے او فل ټائم زمينداري خو زۀ سوچ کوم نو په دې کښې ما ته د ډېرو شيزونو لاس ښکاري.

د ټولو نه اول خو زۀ پکار ده چې د دې خبرې وضاحت وکړم چې آخر د لور، رمبي نه تر قلمه پورې زۀ ولې او څۀ شيز راوستم، حالانکې ډېره موده مې باقاعده زمينداري هم کړې ده، باقاعده قلبه ګاډے او فل ټائم زمينداري خو زۀ سوچ کوم نو په دې کښې ما ته د ډېرو شيزونو لاس ښکاري.

يو خو مې د پلار مزاج داسې ؤ، دوېم دا چې مور مې کاکاخېله وه او د پښتو هر قسم کتابونه به ئې وئيل او کور کښې به پراتۀ وو او درېم د ماماګانو حجره او د جمال کتاب خواني. جمال يو ډېر دلچسپ شخصيت ؤ بلکې پلار ئې د جمال نه هم زيات عجوبه سړے ؤ، زما د نيکۀ يار ؤ چې کله به کلي کښې وو نو زما نيکۀ له به راتلل او د نهر په غاړه زمونږ يو وړوکے غوندې بې امامه جومات ؤ چې مونږ به ورته چونتره وئيله، هغې کښې به ناست وو او قسيم ګل کاکا به مې نيکۀ ته خپلې کارنامې بيانولې چې کوم کوم ځائے ئې کومو کومو پېريانو، ښاپېرو او دېوانو سره مقابلې راغلې دي. د قسيم ګل کاکا پېشه تعويذونه دمونه او عملونه چېلې وغېره وې او ورسره حکيم هم ؤ، اکثر به کلي نه بهر ؤ او چرته نه به ئې د دمونو تعويذونو مزدوري راټولوله. د هغۀ قيصې به څۀ داسې وې چې په فلاني کلي کښې چا يوې ښځې له بوتلم چې غُوټه به پرې راتله چې زۀ ورغلم نو هو هو هو تۀ کور ئې خور کړې پوره اتۀ ويشت پېريان پرې ناست وو او ټول سکهان او هندوان وو.

د پېريانو باچا دا قيصه خو به کوم خو دلته يو وضاحت هم ضروري دے او هغه دا چې کۀ زۀ د خپل ژوند هره خبره او واقعه ليکل شروع کړم نو خبره بيا

ډېره لږې ځي. ځکه چې لکه لوستونکو ته پته ده چې زما د ژوند ډېر شے مېدانونه دي، سیاست، صحافت، شاعري، ډرامه نګاري او په هر مېدان کښې ځان له د یو یو کتاب لیکلو ضرورت د ے. نو داسې چل کوم چې د ټولو نه به لږ لږ واقعات را اخلم.

نور بیا